♡



ژوند
او
هيلې
Ketabton.com
حفيظ
شيرزاد
د ژوند ترټولو ښايسته شېبه هغه ده
کله چې د يو انسان ژړا په خندا بدله کړې..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

هیله لرل زموږ حق دی. موږ باید د خپلو هیلو د پوره کېدو لپاره هر ډول ستونزې او سختي وزغمو. د هیچا ژوند اسانه نه‌دی؛ هر څوک په ژوند کې له یو ډول ستونزو سره مخ وي. دا یوازې زموږ هېواد ته ځانګړې نه ده، بلکې د نړۍ ډېری خلک له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

خو موږ باید هېڅکله نا‌امیده نه شو، ځکه الله تعالی لوی او مهربان ذات دی. د خپلو هیلو د پوره کېدو لپاره باید زغم، حوصله او دوامداره هڅه وکړو. هېڅکله باید ماتې ونه منو، ځکه ماتې یوازې د هغو کسانو په برخه ده چې اراده نه لري.

موږ باید خپلو هیلو ته د رسېدو لپاره پوره کوښښ وکړو، تر هغه چې بریا تر لاسه کړو. هیله‌مند ژوند زموږ د ټولنې حق دی، او موږ حق لرو چې ښه راتلونکی ولرو.

په درنښت

حفیظه شیرزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د ښایست قدر به یاره دومره بس وي کنه
چې ستا دهر ظلم بدل کې تاته وخاندم

تش جېب هغه وزن دي،
چې یو غیرتي ځوان په ملاء ماتوي!

زه په خپل ژوند کې زیاتې ستونزې لرم
خو شونډې مې نه دې خبرې
هغه تل موسکۍ وي
چرلي چاپلین

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت دادی چې ډیر خلک نه د خپلو
انځورونو په څېر ښکلي او نه دخپلو خبرپه
څېر پاک زړه لري

ځینې که عالي نه وي نو جعلي
هم نه وي...
یوازې یې مه پرېږدئ..!

انسانیت!
کوم خاص امکانات او بودیجه نه غواړي؛
فقط احساس غواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

باورونه مه ماتوئ...!
انسان د هر باور
ماتیدو سره په ډیرو
ریښتینو انسانانو
هم بي باوره کيږي

کله چي ملګرتیا د روح سره جوړه سي..!
نو زړه هیڅکله نه مړیږي!
ملګري دې لږ وي؛بدرنګ دي وي غريب دي
وي خو رښتينې دي وي

خلک عینکي پاک کوي
ترڅو د ليدو حس ئې پياوړی سي.
وګورئ که زړه پاک کړئ څه کيږي ؟
هر چا چي بد درسره کړي همدا اوس بخښنه ورته وکړئ،
خپل زړه مو له کينې څخه پاک کړئ،زړه مو خپله پاک کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره هیله!

پوره کیدونکې ده کله چې په ځان باور ولري...!

له چا سره داسی ژمنه مه کوي!

چی ستاسې په طاقت کي نه وې!

مشکلات:

د ژوند یوه برخه ده او د هغی سره 💔

مبارزه کول د ژوند هنر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای! ژوند د فیسبوک په شان دی،خلک کیدای شی،ستا ستونزی خوښی کړی او یا پری تبصره وکړی،خوهیڅوک هم ستا ستونزی نه حل وی،هرڅوک دخپلو ستونزو په حل ولو بوخت دی.

خپل دښمنان او ښنه.
خو نومونه يي مه هیروه

هغه خلک چی ډېر خاندي،هغوی د غم پټولو هنر زده کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوستې او تنبلي دوه هغه بد عادتونه
دي چې انسان په فقراو غربت اخته
کوي.!

د ځان لپاره لوړي موخي وټاکئ،
او ورته د رسيدو لپاره په ځان باور
او په الله تعالی توکل وکړئ.!

د ټولو لپاره ښه اوسه!
که چا ته ګران وې هتمن درسره اوسي.
او که څوک درنه لاړل هتمن دې يوه ورځ نشتون
احساسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان په ژوند کې یوازې د مشکلاتو له شمېرولو سره
مینه لري،خوشحالي هیڅکله نه شمېري.
باور لرم که انسان خوشحاله شیبې هم وشمېری نو ژوند
دومره بی خونده او بی خوبنی هم نه دی!

سجده...!
څومره ښکلي تړون دي..!
ځمکی ته خبري کوو.
او غږ مو تر آسمانه رسیږي.!

عمر دې بل وطن کې تېر کړو
کلي ته راشه چی رنګین شي ماښامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپينوالي کې!
ښايست مه لټوه
کفن سپين دی
خو ډارونکی دی
کعبه شريفه توره ده
خو هر چا ته محبوبه ده

پخـــــــواني يادونه هم يو لوی عذاب دی
اوفف! له خپلې حافظـې نه سړی تنګ شي

په رنګ بدرنګ
په زړه ساده خلګ يوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی ارمانونه یی پوره وی ارمان څه
پیژنی
چا چی یو غم لیدلی نه وی خفګان
څه پیژنې

د ښه خلګو راتلل په ژوند کې
قسمت وي.....!
او د هغو ساتل بیا هنر دی..!

خلک د خبرو کولو حق لري!!
پریږده چې در پسې وغږیږي،خو ته د
نه اوریدلو...
مکمل حق لرې،مه یې اوره!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبر:د ایمان بنسټ دی
نرمی: د کامیابی کیلۍ ده
سخاوت:د انسانیت بنایست دی
ریښتینولي:د حق ژبه ده

هر چاته د زړهٔ خبرې نه کیږي
هر څوک د رازونو هنر نه لري

هیڅکله هم اجازه مه ورکوئ چی
د بایللو ویره مو د ګټلو د شوق او
جوش څخه زیاته شی..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی چې د بدلون وړتیا
نه لري،خپلو ستونزو ته قسمت وايي.

دوه شیان د انسان
عِزت لوړوي،
سخاوت او ښه اخلاق.

د هیچا د ګټلو کوشش مه کوه
پیسې وګټه هر څه پخپله درته راځي
دا د همدې پېړۍ قانون دئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دِ ژبې کنټرول
د ریښتني مسلمان نښه ده.
محمد صلی الله علیه وسلم

پیسه کوم خاص رنګ نه لری..!
خو دی انسان په بدله ولو کی
ښه هنر لری..!

ملګرتیا!
تر عمره وکړه
کنی د دوو شیبو ملګرتیا
خو د جنازی د کټ سره هم کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای
په غمونو باندی می ځوانی خاوری تیری
کړه
کوم ارمان می چی په زړه کی وه پوره
نه شوو

هر څه کوه
خو الله ج مه هیره وه!!

اندیواله مور د چا څخه د ملګرتیا
خیرات نه غواړو،
پیش آمد خوش آمد...!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چی وايي په دنيا کې د هيچا
آرمانونه نه پوره کيږي
دا خبره دې زړه دومره سوځي چې
ټولې شته هيلې اور واخلي

د ځينو شيبو
په ارزښت هغه وخت پوهيږو
چې کله يی تش خاطرات را پاتی شی!

د دغه درد ترجمانی به سړی څنګه کوی!
چی يو مئين راشی او قبر ته د يار وژاړی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکاء..

ښه اخلاق..

ښي خبري..

او..!

پاک زړه..

دانسان لپاره حقیقۍ ښایست دی..

چا سره چې خبرې نه کوې،هغه

پسې خبرې هم مه کوه.

د حق په غوښتلو مه شرمیږه،ځکه

داسې خلک هم شته چې له تا یې په اخیستلو

نه شرمیږی.. ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو ورځي لپاره سل ملګری
مه پیدا کوه
د سلو کلو لپاره یو ملګری پیدا کړه

ځینی خلک د
سیمکارټ مثال لري
بغیر له پیسو کار نه کوي

مطالعه وکړئ،چې په کم عمر کې
لوړ فکر،لوړ هدف او درنې خبرې
وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هرې ماتې وروسته بیا د بریا هڅه وکړه،
ځکه ماتې هر څوک خوري،لیکن بریا ته ډیر
کم خلک رسیږي.

څومره ډیر دی امیدونه
څومره کمه زندګي ده

غواړې بدلون ومومې؟
نو زاړه عادتونه بد ملګري او زیات
استراحت پریږده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انسانانو باندې ډېر احتیاط سره
باور وکړئ
ځکه غاښونه که مو خپل هم دي
کله کله ژبه زخمي کوي.

زړه هغه وخت ډېر دردیږی
چې نیت دې صفا وي
او خلک دې غلط ګڼي!

## عزت

چې ستاسو کیسه کې نه دي
هغوي پرېږدئ
دا منم چې مینه ښکلې ده
خو عزت له مینې نه هم ډېر ښکلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه علم لټون وکړه
چي د مرګ په وخت
او اخيرت کي دي په کار راسي

ښوونکي وويل:غر تعريف کړئ!
هر چا يوه،يوه جمله وليکله،
ما يوازي يوه کليمه: پلار

ځيني خبري روغ زړونه ماتوي!
ځيني خبري مات زړونه روغوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انسانيت:

داسی يو کتاب دی چی دير
کم زده کوونکی لري!

دې جملې مليونونه ارمانونه
خاورې کړل
چې خلک به څه وايې

که غواړئ چې بريالي شئ،نو
هيڅکله له ماتې مه ويرېږئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر انسانان هغوی دي،
چی لویدلي خلک له ځان
سره راپورته کړي.

مرګ یو تریخ حقیقت دی،
او ژوند یوه خوږه دوکه ده.

تر ټولو خطرناک انسان هغه دی،
چې تل خاموش وي.!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې د زړه درباندې پام کوي،
هغوی مو په خاموشۍ هم پوهیږي

ژوند نه مې زده کړل
چې هیڅوک هم د خپلو خبرو په څېر نه دي

کله چې تاسو په غصه یاست نو هیڅ
خبري مکوئ او چوپ کښینئ.!

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا په صادق دوستانه راسره اوکړه
یو چا هسې چل دوکه راسره اوکړه
چا په نیمه لار کې پرېښودم یواځې
چا تر مرګه بدرګه راسره اوکړه

ته مې چې ولیدې،
ومې ویل،
ژوند هم څه یو ښکلی خوب دی...!

مورږ یوازې په حرکت مکلف یوو
د رزق وعده الله (ج) کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې درته شک پیدا شو؛

د تحقیق لپاره یو بل قدم هم پورته کړئ!

ځيني وخت ماتېدل

د یو نوي ژوند پيل وي!

درې شیان په ژوند کې خوښ کې

ساده ژوند

غریب ملګرې

ښه اخلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

بريالي خلک تل دوه شيان پر
خپلو شونډو کې ګرځوي
خاموشي موسکا

ډېره سخته ده،کله چې يو څوک
خپل مطلب در څخه پوره کړي،
او بيايې په خوی او اخلاقو کې
بدلون راشي.

کوشش وکړئ له چا سره په کوچينيو خبرو
تل پاتې خفګان مه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه وکړه!
یوازې د دې لپاره چې انسانیت
ثابت کړي،نه د دې لپاره چې
خلکو ته ځان نیک وښایي.

ځان لوړ مه بولئ!
ورکونکی او اخیستونکی الله (ج) دی.!

هڅه مه کوه،
چی د نورو په رنګ ځان جوړ کړي،
ځانګړی اوسه،تر ټولو بدل،
تر څو د نورو په منځ کې معلوم شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې

گټلای شو،خو ساتلای ئی نه شو

چېرته چې ستا د خبرو
قدر نه کیږي،هلته
خاموش پاتې کېدل
غوره دي.

نن خو مې ډېر یادیږي یاره
خدای دي ناڅاپه چیرته راوله مئینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملگریه لاس تر زنې د بخت وطالع په تمه مه کښېنه
تر څنک یې لږ،لږ،هڅه هم کوه ترڅو خپل ټاکلي هدف
او بریا ته ورسیږې.

ریښتیا ویل به انسان خفه کړي
خو د ریښتیا پټولو لپاره
دروغ ویل زړه ماتوي.!!

که چېرې کومه ورځ درسره خیانت وشو،
نو پوه شه چې ارزښت دې لوړ دی.
چارلي چاپلین

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې لاس ته نشې راوړلای،
بد نام کوه يې هم مه،دا ستره
نامردي ده

که غواړی چی اصلاح شی،
بد ملګری پريږده او ښه ملګری پيدا کړه.!

هيڅوک له نيمګړتيا خالي نه
ده،ځکه خو پنسل ځان سره
پنسل پاک هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چاته هیڅکله وخت مه ورکوئ!
ځوک چې مو یوازې د خپلې اړتیا په وخت کې یادوي.

علم یو داسې ګل دي
چې څومره غوړیږي هغو مره یې
خوشبوې زیاتیږي.

مونږ په بنکلو پسی نه ګرځو صاحبه
چی په چا کی سړیتوب وی زمونږ یار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هو سا ژوند لپاره 5 مقرارت

- له ځان سره مینه وکړئ
- ښه کارونه وکړئ
- تل خلکو ته ښننه وکړئ
- هیچا ته زیان نه رسوئ
- مثبت اوسئ

بریا دا نه ده  چې ته هېڅکله ونه غورځېږې،بریا دا ده چې له هر زوال وروسته پاڅېږې

دوی ستا څخه نفرت کوي،څکه چي په تاسي پسي در رسبدلای نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انسانان د خپلو غمونو

په اندازه زړيږي!!! نه د خپل عمر په اندازه
« نو خوشحاله اوسه او ځوان پاتي شه »

داسې یو کس هيڅکله هم د لاسه مه
ورکوئ
د چا په زړه کې چې ستا لپاره مينه فکر
او عزت وي.

## د بريا راز

ټولنه هغه وخت ښه پر مخ تللی شي،چې خلک
يې با سواده او وجدان لرونکي وی...!!!.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غنم دانۍ ادم سرۀ څه وکړل"
ته لا بیا هم غنم رنګو پسې ګرځې

کله چې د تعلیم اصلي موخه دنده وي،نو
په ټولنه کې یوازې خدمتګاران پیدا کیږی،نه
مشران

دغه ژوند بیا بیل خوند کوی
چی ژوند ستا وی..
او سوچونه ورته نور خلک کوی_____

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژوند کې دومره هم په نورو تکیه مکوئ،
چی کله دې یوازې پرېږدي او مات شې...!

بعضې یاران د یوسف ورونه شی ما وغورځوي
بعضې یاران لکه یعقوب راپسې زړه اچوي

ای سل خبرې،سل کیسې لري دا خلک
دخیرې تر شا خیرې لری دا خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانه!او بخښنه قسم دی که مې پام و
دا خو شپه تر نیمایي رارسېدلې

ای اوس د چی وینم
ځان ته داسی
قناعت ورکوم
دنیا فانی ده
او د ښکلی
چندان خلک نه دی

نه داسی نه ده چی زه غم نه لرم
ژوند د می دوکه وکړی خنده مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولونه غته ریشته

دوستی

خو په بلل او په معنه ئی
دیر کم خلک پوهیږي

او وایی ما نه د پلارمی
دا یوه خبره نه هیریږی
ده تولو خلکو سره خه کوه
خبری کوه
مور به می وی
چی زړه ده هیچا سره مه بدوه
عادت ده پلار او ده نیکه کوه خبری کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله کرم سوچونه او حیران شم
دادی ستری ژوند منزل به اخیر سه وی

د خلکو
د قضاوتونو پروا مه کوئ
هغوی چې ځنګه تربیه شوي دي
په هم هغه ډول تا سې ته هم ګوري!

دا ډېرو منافیقو په خندا
باندې خو پویئ شوم
خو ده بعضو په دي لاسو
تسبیح سړي دوکه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بي ځایه؛
ځان ښودنی هڅه مکوه؛
هر کله چي؛
د کمال ښتن شوې؛
پخپله معلومیږي؛

وخت که هر رقم وو
تیر شو او تیریږي
مگر ځینی نمک حرامه
مي نه دي هیر کړي

خلک لاری بدلای
مونږ به ځان بدل کو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مره
چی وخت راشي نو اخلم به یی
زه ده ذری ذری حساب ساتمه
سومره ما زغه چي ستا په تول سر کيدي
دومره مازغه خو زه خراب ساتمه

کبر مکوه ښایست به دې سر وخوري
د گلونو ډېره کمه زندگي وي

ژوند سره مې مینه پیدا شوې ده
ما چی له بې ننګونه لاس واخیسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد ته به ګولۍ واخلم
غمه! تاته څه ښه دي؟

په وړو وړو خبرو به زړه نه خورې
ستا په مخ کې خولا ډېره زندګي ده

هره شېبه يې د مسکا په رنګ رنګينه ساته
دا زندګي او ځوانی دواړه بېرته نه راګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ته وايي،چې داته لاځه بدبخت يې
زما خپله زندګي ما پورې خاندي

که خفه يم د ځان نه به خفه يم
زما څوک دې،چې په ما باندې خفه شي

شيشې ماتې کړئ،مصرف يې زما په غاړه
خو! د خدای لپاره مه ماتوئ زړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند وي کله کله د رنګمال د کار جامو غوندې
سل رنګه پراته وي پري خو بیا هم ښکلی نه ښکاري

*په ملګرتیا به دی سوچ وکړم ویریدلی یمه*
*له دی ګړنګ نه یو ځل مخکی هم لویدلی یمه*

او منم چی ورځې
سختی دی خو ټول
عمر به نه وی
الله چی مهربان شی وچه
خوارونه به روان شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه د مینی ډک ممتازه څوک ګوري؟
جیب ګوري،درهم لرې که نلرې؟

هیڅ انسان مې هم له درده خبر نشو!
زه د ګونګ سړي د چغو په رقم یم

دغه ټول خلک خپلیږي
خو،پیسه غواړي سړیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شيشې ماتيږي خلک چغې وهی
زړونه ماتيږي خلک هيڅ نه وايي

زه په کې ژوندون دپاچاهۍ کوم
خړ کلی مې خوښ د يو سړي په سر

زړه باندې چې درد شي سترګې وژاړي
نه ځي،بی بارانه له ناوی اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبه خاندم ډیره نا ممکنه ده په خدای
دومره ډیر غمونه لالي ندي زیږولي

ولې دې یقین راباندې نه کیږي
څومره قیمتی زړه مې درکړی دی

وایی وایی ته هم زړه راباندی تش که
ماته تل تِرخی تِرخی خبری کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ملګریه

زه په دی ایمان لرامه
چی یو ورځ می حالات بدلیږی
خو که چېرته هغه ورځ راغله
او زه مر اومه
نو زما په ځای ته په کړس کړس او خانده

هیڅوک پوره د سیند له پورې غاړې ونه وتل
چانه جانان
چانه ایمان
چانه وطن پاتې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هيچا کيلې مه کوئ!
ځکه چې ټول سترې شوي
ځيني له خلکو
او ځينې له ژونده

هر څوک زړه لري
او هر زړه هيلې لري

زما چوپتيا!
کمزوري نه ده!
دا زما انتقام پيل دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غمونه په ښارکی---
خندا هم يو لوی---
هنر دی-----

(هغه څه چې تير شو..؟)
(هغه څه چې ونه شو..؟)
(خفه کيږه مه..؟)
(ژوند که دومره اسانه وای په ژړا به نه
شروع کيدای..؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځينو د خندا شاته
يوه نړۍ درد ونه وی

خاموشی بی معنا نه وی!
ځینی دردونه آواز له منځه وړی

لُقمان حکيم خپل زوی ته وايي:
زویه که خبرې کول د طِلا په څېر دي،
نو چُپ پاتې کېدل اَلماس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه انسان چې نفس يې پاک،صادق او
ژمن وي،ډېر درېږي

زما نړۍ له دردناکو يادونو ډکه ده..!

اِنسان که هر څومره شتمن شي،
نه خپل درد خرڅولي شي،
او نه ځانته سُکون اخيستلي شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقل د عزت يار دی،
که عقل نه وي عزت خوار دی.

هر زړه درد لري:
ځيني په خندا کي پټه وي،او ځيني په سترګو کي.

همداسي بدرنګه
ښه يو!
نه دوه رنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسي ټولنه کي ژوند کوو چي ناکام
سي پیغور دي وژني!
او که کامیاب سي حسد بغض کینه دي
وژني!!!

*په خوله به وایم چی می هیر یی*.
*که په رښتیا دی هیروم نو مړه دی شمه*.

انسانیت کومې خاصې بودیجې او امکاناتو
ته اړتیا نلري،یواځې او یواځې احساس
ته اړتیا لري،،.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړي يوو!
خو نا هيلي نه يوو
کيداى شي،يو ورځ تر خپل هدف ورسيږ.وو
پر خپل رب توکل او پر ځان باور لرم
ان شاء الله

په ښو خلګو پسي مه ګرځه
ځان ښه کړه چي نور خلګ په تا پسي وګرځي

اوس دي نه راځئ څوک نه غواړم مننه!
زه مړ سوئ يم په خپل ځان کئ دننه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چی د علم په زده کړه کي مشکلات نه سي زغملای،هغه دي د ټول عمر د جهالت مشکلاتو ته تیاری ونیسي.....

مسکا وکړه
ترڅو هغوي وسوځوي
چي ته یی نه خوښیږي

کورنۍ تل د انسان لومړی تباه کوونکی وي خو موږ یې په ویلو شرمیږو.
کورنۍ ستونزه ستاسو ټولې خوښۍ
وژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

چپ اوسیدل زما طاقت دی
کمزوري نه
یوازی اوسیدل زما عادت دی
مجبوری نه

هغه څوک انتخاب کړه چې
تر غرور يې ته ورته مهم يې...!!!

~ که خفه یم په نامردو پسی نه یم
~ خپل اخلاص او وفا پسی خفه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندیښنه د انسان د ځوانۍ،
تر ټولو غوره برخه خوري..

په خالق مئین اوسه
ځکه مخلوق د وفا لیاقت نلري

ژوند وکړئ او په مسکاې
تیر کړئ
چې سوک مو نه خپلیږئ
رخصتې کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ځان قيمتی وګڼئ،ځکه الله تعالی هيڅ شی
بی ګټې نه دی پيدا کړی الحمدالله

واقعاً هم سخته وي!
کله چي د ټولي کورنۍ د اُميد سترګي تا ته وي او
ستا ښخه بخت نا ځوانه مخ اړولی وي!

هيڅکله د هغه سپيڅلی زړه ازار مه اخله چی ستا
لپاره پکښی احساس موجود وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ داسې یو کتاب لرو.

*چې پېکښې د ټولو مرضُونو شفاء ده..!*

*الحَمْدُ ِللهِ*

قران کریم

زه نه دا شر سړی یم

زه نه دا جنگ سړی یم

ما په قراره پرېږدی

زه یو ملنګ سړی یم

*هیس څوک نه راځي چې تا وژغوري.*

*ژوند سل فیصده ستا مسولیت ده.-

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژونده ستا معنی چی رانه هیره ده
سا می بیا وجود کی ولی گیره ده
درده چی ده خوبه دی ویستلی یم
بس دی ماته دومره سزا ډیره ده

وئیی په ځینی وخت کي به
لتانه زه هیریږی مه هم
خو ځینې وخت کي به
زه دیر دیر دریادیږی مه هم
او زه که ده غر غوندي
خبري په زړه نه اخلم خو
زه په وره وره خبره
خفه کیږی مه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه
که عمر می تمام وی
لږ په قرض را که
دومره می پریږده چی
آرام افغانستان ووینم

*رب ته مه وایه چي غمجن یم
*غم ته ووایه چي زه داسي رب لرم
*که مي ورته سر په سجده کړو*
*نو نا ممکن کار به ممکن کړي*❤️*______

موری که هر څومره غریب ومه زه
چی تا لمرمه ټول جهان زما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب آخر کې دا وایم چې

دغه شعرونه او جملې چې دلته راټول شوي، ما لیکلي نه دي. دا ټول هغه شعرونه او احساسات دي چې زه یې خوښوم. ما دا پریکړه وکړه دا باید ولیکم؛ ځکه دا ډول شعرونه او خبرې زما زړه ته نږدې دي.

دا ټولې لیکنې مې له مجازي صفحو لکه فېسبوک، واټساپ، او نورو ټولنیزو رسنیو را اخیستې. زه باور لرم که موږ وغواړو، کولای شو له دې مجازي نړۍ ښه او مثبته استفاده وکړو.

په همدې هیله چې یوه ورځ به زه خپله لیکنه، خپل شعرونه او احساسات هم چاپ کړم. ځکه که انسان وغواړي، هڅه وکړي او زغم ولري، نو خامخا به خپلو هیلو ته ورسیږي.

که په لیکنه یا املا کې کومه تېروتنه شوې وي، له تاسې بخښنه غواړم.

هیله ده چې دا ټولګه مو خوښه شوې وي.

ستاسې د بریا په هیله،

په درنښت،

حفیظه شیرزاد

کال ۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**